مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۶/۰۵/۰۴

# کـه زه وکـړم لـه خـوارانـو طـوافونه

ستا د سترګو نه قربان شم پیغمبره!
خو کعبې ته دي د قام د لاسه نه ځم
ټ/رمپ بوټونو سره هلته ګرځېدلی
د سجدې ځای ته د ګام د لاسه نه ځم

نو دا حج به مې قبول نه کړې خالقه
کـه زه وکـړم لـه خـوارانـو طـوافونه
دسترخوان کې د یتیم ډوډۍ پیدا کړم
ورخوشاله کړم له غمه ډک ډک زړونه

چې د زړونو د کعبې آواز ته غوږ شم
راپـه یاد بیا د بـلال شـې آذانـونـه
د عـربـو ګـټـه ګـټـه د ی.ه.ود ده
خدایه خپل وطن کې راکړې ثوابونه

نن کعبه تسخیره کړې ام/ریـکـا ده
له جهانه دي باغي وطن تـه راشئ
هدیرو نـه راته وکړئ طـوافـونـه
د بـاور دې لـېـوني وطن ته راشئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ